# يو زارع شاعر

دکندهار غربي خوا ته د ارغنداو پر غاړه يو سرسبزکلی دی چي خلك يې کوهك بولي، دا ځای اوس يو کلی دي خو پخوا ښار و او شهرت يې درلود، حتی د حدودالعالم خاوند يو زرکاله دمخه په همدغه نامه د پنجوايي سره يو ځای د خراسان په سيموکي يادکړی دی.

په دې کلي کي دېرش کاله پخوا د محمدزو په يوه کورنۍ کي يوه محترم او درونڊ سردار ژوندکاوه چي په کندهارکې دکوهك سردار عبدالحميد جان باله، دا سړی يو زارع و، هلته يې مځکي او باغونه درلودل او په کرهڼه يې خپل ګذران کاوه، مګر دی يو معمولي زارع نه و د علم او سواد خاوند و، په عربي او فارسي او پښتو کې ښه مطالعه درلوده. په تاريخ واقف و اوکله کله به يې په پښتو او فارسي شعر هم وايه.

ده خپل عمر په زراعت اوکارداري او مطالعه کي تېرکړی و. د سړې سينې او نرمو اخلاقو او خوږې وينا ښتن و د علم او پوهانو سره يې مينه کوله. کله چي به د زارعينو له منځه راووت، نو به په علمي او ادبي مرکو کي شامليدی او په تندي کي به يې د علم او دانش د ميني نخښې ليدلي کېدې او د پوهانو احترام به يې کاوه.

سردار عبدالحميد جان لس کاله دمخه زموږ څخه بېل او وفات سوی دی خوکوم وخت چي د پښتو ادب په اوسني سيرکي مطالعه کيږي نو دی نه هېرېږي. ارواښاد سردار عبدالحميد محمدزی شل کاله پخوا د طلوع افغان په ادبي برخه کي سمه حصه درلوده او هر وخت به يې آثار او اشعار په هغه روزنامه کي ما خپرول او د کندهار په ادبي حلقوکي محبوب و. د سردار عبدالحميد په شاعري کي د پښتو ادب د اخلاقي مکتب پيروي ښکاري، ده ډېري څلوريځي پر اخلاقي او اجتماعي موضوعاتو باندي په پښتو جوړي کړيدي، ژبه يې نرمه او فصيحه او د روزمره محاورې سره برابره ده، په روانه ژبه اخلاقي او اجتماعي موضوعات نظم کوي.

سردار عملاً هم د خلکو او بزګرانو سره محشور سړی و، دکلي ژوند او زراعتي چاپېر دی د عوامو په منطق آشناکړی و او د بزګرانو په راشه درشه پوهېدی او په دغي اورشوکي نو مجبور هم و چي هرکله د خلکو په ژبه خبري ورسره وکي اوکه نظم ليکي هغه بايد داسي ساده او سهل وي چي د سهلو وړ وي او اخلاقي غوره مطالب په روښانه ژبه دوی ته ووايي.

مثلاً سردار د بزګرانو اوکليوالو د اولاد روزني ته متوجه و، او لومړی پلا يې پخپل کلي کي د نجونو يو ښوونځی هم جوړکړ، او دغه مطلب په داسي ساده ژبه خلکو ته ښيي :

وخت د عـــــلم او ادب دی کمـــــــکی واله
چي څوك غټ سي بيا مشکل سي دغه کار
نن ده لښـــــــته هري خـــــــــواوته کږېږي
چي ولاړ بند ســـــو يا سوټی سي يا مـــتار

بهترين انسان کوم دی؟ دا مطلب داسي بيانوي :

بهـــــترين د خدای د خلـــکوکوم سړی دی
چي يې نفــــــــعه و عالـــــــم ته ورسيږي
د هيـــــــچا ســــره يې بد نه وي په زړه کي
او هيـــــــــخ تمه يې و چا وته نه کـــــيږي

جامعې ته تواضع ښه ده :

عــــاجزي او تواضـــــع څه ښه پېشه ده
چي تقديم يې کړي خپل خدای او جامعې ته
دا معــــــلومه سوه چي ډك يې د حاصلو
مېوه داره ښـــاخ همېش کوږ وي و کښې ته
د عمل مکافات په داسي ژبه بيانوي :
دنيا ځـــای د مــــــکافات دی ښــــــه يې واوره
که ته ښــــــه کړې عـــــالم ټول درسره ښه کړي
که ته بد کـــــــړې نور د هيچا ګيله مه کــــــړه
دا عجـــــــــبه ده ته بد کـــــــړې نور به ښه کړي

کــــــه د چا په لارکي څاه کــــــــينې سړيه !
عاقبت به ســـــــــرنګون پکښې غـــــوزار سې
په پارسي وايي : )چاه کن را چاه در پيش است(
انسان نه دی چي اخــــــته په دغــــه کار سې

که چا لـــــــــږ ګــــوتې ضرر و چا ته پېش کی
منتظر دي مـــــــکافــــــات او په پاداش وي
هـــــــــر چي وکري حتمي به هـــــــغه اخلي
که غـــــــــــنم وي که اوربشو وي که مـاش وي

مــــــقامات د ظالـــــــــــــمانو په دنيا کي
ما لــــــــيدلی دی مظلوم لــــــرې خدای ورکا
لـــــــکه کوټه د انــــــــګار چي په آخرکي
ســـــوځل پرېږدي و ايرو وته ځــــــای ورکا
خپل عيبونه ليدل او پر ځان انتقاد :
خــــــپل عيبونه دي پيدا کـــــــړه ورته ګوره
شـــــــــپه او ورځ پلټې ولــــي عيب د نـــــورو؟
که دي خـــــــــپل عيب کـړ پيدا هلته عاقل يې
له دمـــــــاغه ســـــــودا وباســــــه د نورو
غضب انسان څنګه مسخ کوي؟
هر انسان لـــــــــره چي ګاهي غـــــضب ورسي
پر لازمه ده چي صبر و تحـــــــــمل کـــــــړي
که هــــــــيڅ صبر و تحـمل ورسره نه وي
انسان نه دی موشه خر دی ښه دې ځل کړي
ناپوهان څنګه تاوان کوي؟
د ناپوهو عــــادت دا دئ زما زړګــــــيه !

چي يو دوست په ډېر مـــــدت سره پيدا کي
رعايت يې د دوستۍ هيـــــڅ پر ځای نه کي
په لږ وخت يې هم خـــــــپه هم يې جلا کي

د سردار عبدالحمید په نظر ژوند او مرګ دوه مفهومه لري، ښه نوم د انسان ژوند او بد نوم يې مرګ دی، وايي :

کوم شـــــــــيان دي راته ووايه هوښياره؟
چي بهــتر دي تر ژوندون تر مرګ بتر وي؟
چي بهــتر دي تر ژوندون، هغه ښه نوم دی
هم بد نوم د هـــــــر انسان تر مرګ بتر وي

هغه چاري چي په ژوندانه کي سړي ته خجلت پېښوي که څه هم آناخوږې وي خو پای يې رسوايي ده :

د خـــــــمار په اروم ـــــــــــيو نشه توله
نه اوريږي ولي ظلم پر خـــــــپل ځان کړې
که هوښـــــــيار يې نن تر هغه چاره تېر سه
چي ســــــبا به خجلت کاږي او ارمان کړې

په دې توګه سردار عبدالحمید د پښتو د اخلاقي نظم يو ښه روزونکی ګڼل کيږي او زه چي دغه کرښي د ده په ياد ليکم، نو مي د ده هغه مرکې را په ياديږي چي پخپل کلي کي به يې د بزګرانو سره کولې او په دغسي خوږه او پسته ژبه به يې دوی ته د ژوندانه لاري چاري ښوولې، د ده اروا دي ښاده وي.[1]

[1] کندهار مجله، ۱۳٤۲ ل کال، ۱۱ مه ګڼه، ۱۱ _ ١٤ مخونه.